مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

محمد انور آخړ ۲۰۲۱/۱۲/۰۱

# په ویتنام او افغانستان کې د امریکایانو جګړې

## (پرتلنه)

### اتلسمه برخه

**ویتنام:**

**په ویتنام کې د امریکایانو ماتې او د ویتنام د بري عوامل، په جګړه کې لوړ مورال، انګېزه او موخه (هدف)**

د امریکا متحده ایالاتو سیاستوالو خپلو وسله والو ځواکونو او امریکایي وګړو ته د مورال او انګېزې ورکولو په موخه ډول، ډول تبلیغات کول، تر څو وکړای شي په ویتنام کې خپلې جګړې ته مشروعیت ورکړي او خپل خلک له ویتنامیانو سره جګړې ته وهڅوي، د دغو تبلیغاتو په لړ کې امریکایانو د جنوبي ویتنام آزادی غوښتونکي سرتیري (ویت کنګ) چریکان بې فرهنګه او کمونستان بلل، په داسې حال کې چې د ویت کنګ چریکان نه کمونستان وو او نه بې فرهنګه.
د امریکا واکمنو د خپل ولس د غولولو په موخه دا تبلیغات هم کول چې موږ د جنوبي ویتنام له خلکو څخه د بهرنیانو پر وړاندې ساتنه کوو، د دوی د دا ډول ادعاګانو په اړه یو تن امریکایي پیلوټ داسې غبرګون ښودلی وایي:«تر پرونه پورې موږ د ویتنامیانو په څېلو کې له فرانسویانو سره مرستې کولې او اوس له جنوبي ویتنام د شمالي ویتنام پر وړاندې دفاع کوو؟...» (بر تراند راسل: جنایات جنګ در ویتنام، فارسي ژباړه د ایرج مهدویان،۱۷۲مخ)
ولسمشر کېنېډي امریکایي وګړو ته په۱۹۶۲ز، کال کې وویل:«هو، لکه چې تاسو پوهېږئ، متحده ایالات له لسو کلونو راپدې خوا د ویتنام د خلکو او دولت، له خپلواکۍ څخه ملاتړ او دفاع کوي.» (پروفیسور هواړ زین: داستان امریکا، ۲ ټوک، فارسي ژباړه خ. طهوري؛ م. هادي ۲۸۶)
سره له دې چې امریکایانو د خپلو پوځیانو د مورال اوچتولو په موخه هر ډول هلې ځلې ترسره کړې خو هر څه بې اغېزې وو، د امریکایانو مورال د هرې ورځې په تېرېدو سره په ټیټدو او لنګې یې په ګربیدو وو خو د ویتنامیانو مورال ورځ تر بلې لا پسې لوړېده.
لکه چې پوهیږو په جګړه کې له هر څه لومړی، لوړ مورال دی چې د بري سبب کیږي، د لوړ مورال درلودل بېلابېل عوامل لري چې د ځایي وګړو په دود دستور، ګروهو (عقایدو) او هېواد دوستۍ پورې اړه لري، د شمالي ویتنام وګړو او جنوبي ویتنام آزادی غوښتونکو (ویت کېنګ) سرتېرو، د امریکایانو او جنوبي ویتنام امریکایي پلوه ځواکونو په اندول لوړ مورال درلود، د دوی د لوړ مورال انګېزه، له خپل هېواد سره بې کچې مینه او د یرغلګرو څخه کرکه وه چې له امله یې د یرغلګرو پر وړاندې د خپلې خاورې ساتل او له خپلې خاورې د یرغلګرو د ایستلو موخه (هدف) رامنځ ته کړې وه چې په مېړانه او ویاړ سره یې خپل ځانونه قرباني کول. ویتنامیان له مرګ، ژوبلې او زوررونو نه وېرېدل، هر ویتنامی (ښځه او نر) په جګړو کې لوی شوي وو نو ځکه هر ویتنامی یو جګړن او اتل ؤ، په دې اړه ښاغلي (... برشت) ویلي وو:«هغه ملت چې اتل ته اړتیا ولري بدبخت دی، په ویتنام کې ټول خلک، ښځې، نر، زاړه او واړه اتلان وو.» (غلام رضا نجاتي: شکست امریکا)
د ویتنامیانو د لوړ مورال او زړورتوب په هکله د امریکا متحده ایالاتو ولسمشر جانسون په خواشینی سره اقرار کوي وایي:«که چیرې زموږ هوایي ځواک نه وای د دغو هر یو زېړ پوستکو او نیم لوېشتو به، په خپلو جیبي چاکوګانو موږ ژوندي نیولي وای.» (بر تراند راسل: جنایات جنګ در ویتنام، ۱۳۹مخ)
دا ډول د امریکا متحده ایالاتو ولسمشر ایزنهاور د ۱۹۶۱ز، کال په جنورۍ کې له ولسمشر کېنېډي (چې نوی ټاکل شوی ؤ) د لیدنې پر مهال په حیرانۍ سره وویل:«ولې موږ په دا ډول مداخلو کې تل په دې فکر کې یو او وایو چې د کمونستي ځواکونو روحیه زموږ د دموکراتیکو ځواکونو پر وړاندې لوړه ده.» (پروفیسور هواړ زین: داستان امریکا، ۲ ټوک،۲۸۷مخ)
د امریکا ولسمشر، جان کېنېډي بیا دا ډول څرګندونې کړې وې:«جنوبي ویتنام ته پوځي مرستې چې په هره کچه او هر کیفیت وي نه شو کولی (هغه دښمن چې په هر ځای کې موجود دی او په هېڅ ځای کې نه لیدل کیږي) له منځه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

يوسو، داسې دښمن چې د خپلو خلكو له ملاتړ برخمن دی، دغې حقيقت ته پام کول اړين دي، تر هغې چې د هندو چين له خلكو او ملي ځواكونو ملاتړ ونه لرو، په دې آسيايي سيمه كې نه يوازی بری مشكل دی بلكې ناممكن دی.» (غلام رضا نجاتي: شکست امريکا، ۱۱۸مخ)
د ويتنام جګړې د امريكا يو تن سور پوستي ګډونوال ويلي وو:«دې واقعيت ته په كتو سره چې موږ د [روحي وسلې له پلوه له دښمن څخه په ټيټه كچه كې يو، زموږ په منځ كې حيرانوونكي لټي او سستي موجوده ده... خو [د ويتنام] خلک تل پاتې دي، ځكه چې ايمان لري، هغوی موخه (هدف) لري، له دې امله ده چې موږ د ويتنام جګړه وبايلله، ځكه چې موږ موخه نه درلودله، موږ يو شتمن سړی، د هغه بل شتمن سړي لپاره وجګړيدو...(*)»
(پروفيسور هواړډ زين: داستان امريکا، ۳ ټوک،۵۴مخ)
امريكايی ليكوال پروفيسور هواړډ زين ليكي:«له ۱۹۶۴ز، كال څخه تر ۱۹۷۲ز، پورې د نړۍ تر ټولو ځواكمن او بډايه هېواد، (پرته د اټومي وسلې) د نورو ټولو وسلو او وسيلو په كارولو سره، سره ونه شول كړای چې د يو وړوكي هېواد په تش لاسو بزګرانو باندې بريالی شي، د متحده اياڵاتو ځواكونه د خپلې مډرنې ټكنالوژۍ سره د ويتنام پر وړاندې د جګړې ډګر ته راغلل خو د ويتنام خلک بريالي شول.» (پروفيسور هواړډ زين: داستان امريکا، ۲ ټوک، ۲۷۷مخ)
يو تن امريكايی پيلوټ چې له ويتناميانو سره اسير ؤ د ويتناميانو د لوړ مورال په هكله وايي:«دوه ښځونو راته ښكاره شول يو د هوسي مين سره مينه او له بمباريو څخه د دوی نه ويريدل ... .» (بر تراند راسل: جنايات جنگ ويتنام، ۱۶۱)
دا چې هر ويتنامی يو سرتېری ؤ، په اړه يې د شمالي ويتنام د دفاع وزير او د (دين بين فو) جګړې فاتح (وونګوين جياپ) وويل:«زه د ويتنام د خلكو په بري باندې ډاډ لرم؛ موږ يوازې له امريكايي [وګړو] سره نه جګړيدو، دوی (B -25) الوتكې درلودلې، سخته جګړه وه خو موږ د (هوشي مين) پر لار روان وو، ومو كولی شول چې ټول ويتنامي وګړي جګړه وكړي، له هرې درې څخه جګړه ييزه كلا جوړه كړو، هره لاره وتړو، هر ويتنامی كس سرتېری كړو. امريكايان په خپلو وسلو او تخنيک باندې ډاډمن وو خو موږ په لومړيو كې د خپلو خلكو په هوډ او كړنو ولاړ وو، دا زموږ د جګړې د ګټلو دلايل وو چې ويتنام بری ترلاسه كړ.» (هماغه کتاب، ۲۴مخ)
-----------------------------------------
(*) داسې ښكاري چې دغه پاراګراف له انګرېزۍ څخه فارسی ژبې ته په سمه توګه نه دی ژباړل شوی، موږ د مطلب اصل مفهوم پښتو ته وژباړه.

كله چې امريكايان په دې پوه شول چې په ويتنام كې جګړه نه شي ګټلی نو د جګړې څخه د وتلو په هكله يې ډول، ډول څرګندونې پيل كړې. دا مهال د امريكا يو وتلي مبصر وليكل:«د امريكا ستراتيژۍ په اسيا كې ماتي خوړلې ده، موږ په اسيا كې د پوليسو دنده ترسره كوو.» (هماغه، ۱۳۹مخ)
د متحده اياڵاتو ولسمشر، نيكسون چې د جانسون څخه وروسته واكمن شو د ويتنام له جګړې څخه د تېښتې په پلمه داسې وويل:«امريكا له خپلو دوستو هېوادونو سره نامحدوده مرسته كوي خو دا آسيايان دي چې بايد له آسيايانو سره جګړه وكړي.» (هماغه ۱۴۸مخ)
د نيكسون موخه دا وه چې جنوبي ويتنام په پرمخ تلليو وسلو سمبال كړي او د ويتنام له جګړې امريكايي ځواكونه وباسي او جګړه ويتنامی كړي، داسې چې جنوبي ويتنام له شمالي ويتنام سره په جګړه كې پرېږدي.

**د امريكايانو تاريخي او تل پاتې شرموونكي ماتي**

لس كاله وړاندې چې لومړنۍ امريكايي پوځي ډلې ويتنام ته د مرستې په نوم راغلي وې، د ويتنام جلكيو چې سپينې ريښميني لمنې يې اغوستې وې دوی ته يې ښه راغلاست ويلو او د ګلونو امېلونه يې د هغوی غاړو ته وراچول خو كله چې د امريكايانو وروستۍ ډلې له جنوبي ويتنام څخه په وتلو وې، د سايګون اوسيدونكو په دوې پورې خندل او ملنډې يې پرې وهلې. (غلام رضا نجاتي: شکست امريکا ۱۷۹مخ)
كله چې امريكايانو د جنوبي ويتنام جمهوري رژيم يوازې پرېښود او څه موده وروسته د شمالي ويتنام تر سخت فشار لاندې راغلو نو د امريكا د بهرنيو چارو وزير كيسنجر د امريكا د تاريخي بدنامۍ په هكله خپله اندېښنه داسې ښكاره كړه:«له نړيوالو سره دا پوښتنه رامنځ ته شوې ده چې موږ امريكايان څه ډول خلک يو، د تېرو پنځلسو كلونو په اوږدو كې موږ د ويتنام وګړي وهڅول چې د بهرني خطر پر وړاندې (چې موږ يې بهرنی خطر بولو) له ځانه دفاع وكړي ... خبره په دې كې نه ده چې له ويتنام څخه د امريكا متحده اياڵاتو ځواكونو په وتلو سره د امريكايي وګړو وژل پای ته رسيدلي دي، بلكې بنسټيزه موضوع، د امريكا له يو متحد سره د مرستې ده چې د منځه تلو په حال كې دی ... .» (هماغه،۱۶۷- ۱۶۸مخونه)
د امريكا متحده آياڵاتو د دفاع وزير (شلزينګر) د خپلو ځواكونو شرموونكي تېښته خپل بری وباله او په پای كې يې خپلو تېښتيدونكو ځواكونو ته وويل:«تاسو په جګړه كې بريالي شوي ياست او د ويتنام خاوره په وياړ سره تر شا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همكاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليكنې د ليكنيزې بڼې پازوالي د ليكوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليكنه له راليږلو مخكې په ځير و لولـئ

پرېږدئ که څه هم [جنوبي] ویتنام د بهرنیو [شمالي ویتنام] ځواکونو تر سخت فشار لاندې دی خو د امریکا وسله والو ځواکونو یوه عاقلانه د حل لاره د ویتنام د ژوندي پاتې کېدو لپاره غوره کړه ... !!! (هماغه، ۱۷۷مخ)
امریکایان لکه څه ډول چې ویتنام ته بې هدفه راغلي وو، هماغه شان بې پایلې په خواشیني او بې شرمۍ سره ووتل، هغه خواشینوونکې پېښې چې له ویتنام څخه د امریکایانو د وتلو پر مهال لیدل شوې دي؛ یوه خورا لویه تراژیدي وه.
د ویتنام له لاسه تلل د متحده ایالاتو دولت لپاره د شرم او پیغور خبره وه، د ویتنام ماتې د امریکا لپاره (د ویتنام سینډروم) په اصطلاح بدله شوه، ویتنام له لاسه تللی ؤ خو په دې موخه چې د امریکا تاریخي ماتې ته پرتوګ ور واغوندي، د واشنګټن پوسټ یو تن همکار (توم برادن) د هینري کیسینجر له خولې لیکي:«متحده ایالات باید په نړۍ کې داسې یو کار وکړي تر څو نړیوالو ته وښايي چې اوس هم متحده ایالات نړیوال ځواک دی.» (پروفیسور هوارډ زین: داستان امریکا، ۳ ټوک، ۷۷مخ)
د امریکا د متحده ایالاتو د بهرنیو چارو وزیر کیسینجر هغه وړاندیز چې (۲۶) کاله پخوا یې کړی ؤ، ولسمشر جرج بوش په افغانستان او عراق کې پلی کړ، په لومړیو کې جرج بوش د عراق جګړې له پایلو خوشاله ؤ، کله چې جګړه پای ته ورسیده بوش په یوه راډیویي وینا کې وویل:«د ویتنام غمیزه کابوس د تل لپاره د عربو په جزیره کې خاورو ته وسپارل شو.»
(د مارچ په ۳۰مه/ ۱۹۹۱ز کال کې) نیویارک ټایمز لیکلي وو:«د پارس خلیج په جګړه کې د امریکا برۍ... د متحده ایالاتو د پوځ لپاره ځانګړې حیثیت ورکړ، پوځ خپله ځواکمنتیا او تحرک په ځلیدونکې توګه وکارول، په دې کار سره یې د ویتنام هغه سختې غمجنې خاطرې له زړونو پاکې کړې.» (پروفیسور هوارډ زین: داستان امریکا، ۳ ټوک، ۱۵۴مخ)
جرج بوش او ملګرو یې یوازې خوب لیدلی ؤ چې ګواکې د ویتنام جګړې شرموونکې تاریخي ماتې یې په عراق کې خاورو ته وسپارله، دوی خبر نه وو چې د ویتنام په څېر یې یوه بله تاریخي ماتې د افغانستان د جګړې له امله ورغاړې شوه او د ویتنام ټپونه یې هم راژوندي کړل.


(د نیول شوي امریکایي پیلوټ انځور)

نېټه:۱۴۰۰/۹/۹ل. ل
نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ